# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# زمېندار او
# تُخم



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: E. Frischbutter; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



یوه ورځ عیسی مسیح د دریاب په غاړه باندې تعلیم ورکولو. او ډېر خلق د عیسی مسیح تعلیم اورېدو



ته راجمع شوی وو. د خلقو شمېر ډېر زیات شو. عیسی مسیح به څهٔ کوی؟


هغهٔ په دریاب کښې یوه کشیتۍ ولیده او
په هغوئ کښې کېښناستلو. اوس هغهٔ خلق
لیدے شول، او خلقو هم هغه لیدے
شو او د هغهٔ تعلیم
یې اورېدے شو.
3


عیسی مسیح په مثالونو کښې هغوئ سره
خبرې وکړې. د عامو څیزونو په مطابق یې
مثالونه ورکړل، چې د هغې په مدد
سره خلقو ته د خدئ پاک په باره
کښې ښودنه کوله.
4


یوه زمېندار په خپل پټی کښې تُخم ونوستلو.
د عیسی دا خبرې د یو تصویر په شان وې چې
په هغې کښې د تصویر په ځائ باندې الفاظ وو.
5


خلقو د زمېندار د کار تصویر جوړولے شو.
هغوئ دا ډېر ځله لیدلے وو.
6


څهٔ تُخم د هغهٔ نه په لار کښې
وغورزېدو او مارغان راغلل او د
هغه تُخم یې وخوړو کوم چې په لار
کښې غورزېدلے وو.
7


او څهٔ تُخم په کاڼېزه زمکه باندې پرېوتو.
هغه زر راوټوکېدو او زر لوئ شو. خو نمر
هغه زر اوچ کړو، ځکه چې په هغه ځائ
کښې خاوره لږه وه.
8


او څۀ تُخم په د غنو په مینځ کښې
لوئ شو. او هغې هیڅ پېداوار ونۀ کړو.
او هغه تُخم غنو د څلورو واړو طرفونو
نه ګېر کړو. او د هغې د پاره
نمر او باران ضروری وو
خو په باندې دا نۀ لګېدل.
9


او نور تُخم په ښۀ زمکه باندې پرېوتو.
او وخت تېرېدو سره سره هغه تُخم را لوئ شو.
او هغې ډېر زیات پېداوار وکړو. زمېندار ډېر
زیات خوشحاله شو.
10


د دې قیصئ نه پس شاګردان عیسی مسیح خواته راغلل او
تپوس یې وکړو. تۀ مونږ په مثالونو باندې ولې خبرې کوې؟
11


عیسی مسیح ووئیل، مثالونو خلق د خدائ پاک په باره کښې
د پوهېدو د پاره مدد کوی. کۀ چرې هغوئ په رښتیا هغۀ
سره مینه کوی.
12


عیسی مسیح د دې مثال وضاحت
وکړو. هغۀ ووئیل چې تُخم د
خدائ پاک کلام دے.
13


او په لار کښې د غورزېدلو مثال
هغه کس طرف ته اشاره کوی څوک چې د
خدائ پاک کلام اوری خو پوهېږی پرې نه.
او شیطان یې د هغه
کس د زړۀ هغه ټولې
خبرې وباسی کوم
چې خدائ
پاک په خپل
کلام کښې
وئیلی دی.
14
















زمېندار او تُخم

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

متی ۱۳

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

20

# ختم شو



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون وموم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲